مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۲/۱۵

# عملي زده کړه

د سنيما د نړۍ تر ټولو مزاحيه هنرمند (چارلي چاپلين) وايي:

کوچنی وم، له پلار سره د سرکس ليدني ته لاړم، د ټکټونو اخيستلو لپاره اوږد قطار ولاړ و، ۶ هلکان له خپل مور و پلار سره راغلي و، غريب ښکارېدل، خو پاکو جامو څخه يي سليقه څرګندېدله. هلکان خوشحاله و او د سرکس په اړه يي خبرې کولې. پلار يي چې ټکټ اخيستونکي سره ودرول او د ټکټ د بيې پوښتنه يې وکړه، نو ورو را شاته شو، له خپلې ښځې سره کرار وغږېده او په څېره يي د شرمندګي نښې را څرګندې شوې.

ما مې خپل پلار وليد، چې له جيبه يې ۲۰ ډالر راوویستل او په ځمکه يي وغورځول. د هغه کس په اوږه يې لاس کېښود او ورته ويې ويل: ستا پيسې غورځېدلې دي.

هغه تن زما د پلار لور ته وکتل او له اوښلنو سترګو سره يې وويل: مننه ښاغليه!

د هغه تن له ننوتلو سره مې پلار لاس پرېښود او له قطاره را ووت، ځکه يوازې ۲۰ ډالر ورسره و.

له هغې ورځې راهيسې په خپل پلار وياړم، هغه زما لپاره تر ټولو ځانګړې او ښکلې ننداره وه چې له سرکس پرته مې وليدله.

زه تل منم چې زده کړه په عملي مثال کيږي.

ژباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ